## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**16جدی _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د پکتیا والي د مهاجرت نړۍ وال سازمان سرپرست سره ولیدل ----------------------------------------------------1
صد ها خانواده، در ولایت لوگر مساعدت شد ----------------------------------------------------------------2
نږدې ۳۰۰ مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه خپل وطن ته راستانه شول ---------------------------------------2
صد ها خانواده در ولایت بادغیس کمک شد---------------------------------------------------------------------2
فرانسې په ۲۰۲۳ کال کې ۴۶۸۶ بهرنیان اخراج کړي ---------------------------------------------------------------3
د افغانانو په ګډون لسګونه هغه کډوال موندل شوي چې له رومانیا څخه هنګري ته اوښتل---------------------------5
نخست وزیر ایالت نوردراین-وستفالن آلمان برای رسیدگی به روند پناهندگی در کشورهای ثالث اصرار دارد -----------6
پولیس بلغاریا ۱۸ هزار مهاجر را در ۱۱ ماه سال ۲۰۲۳ بازداشت کرده است ---------------------------------------7

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د پکتیا والي د مهاجرت نړۍ وال سازمان سرپرست سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



د پکتیا ولایت والي ملا مهرالله حماد د مهاجرت نړۍ وال سازمان سرپرست توماس دیکتلاد سره د مرغومي پر ۱۳ مه پخپل کاري دفتر کې ولیدل

ښاغلي توماس د خپلو ترسره شوو خدمتونو او د راتلونکو کاري خپرونو په اړه له ښاغلي حماد سره معلومات شریک کړل

هغه وویل: موږ د مهاجرینو او طبیعي پیښنو په برخه کې کار کوو؛ هغه ډاډ ورکړ چې په دې برخو کې به د خپلو مرستو پر پیاوړتیا کار کوي او نوری به یې هم زیاتوي؛ دغه راز اړمنو ته د مرستو د رسونې د روڼتیا په برخه کې یې د ټولو ولایتي ادارو له همکارۍ هم مننه وکړه

د پکتیا والي د هغه د خدمتونو د ستاینې په ترڅ کې اړمنو کسانو ته د هغوی د مرستو په دوام ټینګار وکړ.

ښاغلي حماد ډاډ څرګند کړ چې د اصولو پر بنسټ د مرستو رسونې د روڼتیا په برخه کې له ټولو خیریه بمستونو سره همکار دي؛

هغه همدا راز د ختیځ زون په کچه د خلکو بنسټي غوښتنو ته د پاملرنې هیله هم وکړه.

په دې لیدنه کې د مهاجرینو چارو او هلته د طبیعي پیښنو پر وړاندې د مبارزې رئیسانو هم ګډون درلود.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## صد ها خانواده، در ولایت لوگر مساعدت شد

ویب سایت وزارت



برای ۶۱۰ خانواده بیجاشده و برگشت کننده در ولایت لوگر کمک نقدی و البسه به تاریخ ۱۳ جدی توزیع شد.
خانواده های مذکور که قبلاً از جانب ریاست امور مهاجرین در ولسوالی خروار شناسایی شده بودند، کمک نقدی موسسه اسلامیک ریلیف را که مبلغ 13 هزار و 600 افغانی ، 3 تخته کمپل و 18 قلم البسه زمستانی بود دریافت نمودند.

## نږدې ۳۰۰ مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه خپل وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

په پاکستان کې مېشت ۲۹۹ افغان مهاجرین د مرغومي پر ۱۳مه د سپین بولدک له پولې څخه خپل وطن ته راستانه شول.

د کندهار د سپین بولدک د سرحدي آمریت د آمر د راپور له مخې ۵۸ کورنۍ چې ۲۹۹ تنه کېږي، په جبري توګه د سپین بولدک له پولې څخه خپل هېواد ته راستانه شول او د مهاجرینو په اداره کې تر ثبتېدو وروسته، د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ،د مهاجرت او خوړو نړۍوال سازمان دفترونو ته ورپېژندل شول.

## صد ها خانواده در ولایت بادغیس کمک شد

ویب سایت وزارت



**آمریت امور مهاجرین ولایت بادغیس از توزیع کمک نقدی والبسه برای ۹۶۶ خانواده به تاریخ ۱۳ جدی خبرداد.**

**خانواده های مذکور قبلاً از طرف آمریت مهاجرین در ولسوالی های قادس، آب کمری و مرکز آن ولایت شناسایی شده بودند، پس از آن مبلغ ۱۳ هزار و ۶۵۰ افغانی، سه تخته کمپل و یک بسته پوشاک زمستانی از جانب سازمان بین المللی مهاجرت را بدست آوردند.**

## فرانسي په ۲۰۲۳ کال کي ۴۶۸۶ بهرنيان اخراج کړي

مهاجرنیوز




د فرانسې د کورنیو چارو وزارت په یو تازه راپور کې ویلي چې په ۲۰۲۳ کال کې یې ۴۶۸۶ بهرنیان له دغه هیواد څخه شړلي چې دا له دې څخه د یوکال وړاندې په پرتله ۳۰ سلنه ډیروالی ښیي. دا په داسې حال کې ده چې دغه هیواد دوه اونۍ وړاندې د کډوالۍ داسې یو جنجالي قانون تصویب کړ چې له ورسره به اخراج نور هم ډیر شي .

د فرانسې خبري آژانس د پنجشنبې په ورځ خبر ورکړ چې د کورنیو چارو وزارت په ۲۰۲۲ کال کې ۳۶۱۵ او په ۲۰۲۱ کال کې ۱۸۰۰ بهرنیان له فرانسې څخه ایستل شوي دي.

د راپور پر اساس،دغه بهرنیان افریقایي هیوادونو، مغرب، او منځني اروپا ته اخراج شوي دي. اخراج شوي کسان د فرانسې په بیلابیلو ښارونو کې د « اخراج له مرکزونو» څخه بیرته خپلو هیوادونو ته شړل شوي دي.

د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن د پنجشنبې په سهار په کورنیو چارو وزارت کې یو شمیر مسولین سره راټول کړل او له دغه ګام څخه یې هرکلی وکړ. نوموړی له دغو مسولینو وغوښتل چې په دې برخه کې دې خپلې هلې ځلې نورې هم چټکې کړي.

دا په داسې حال کې چې د فرانسې د کډوالۍ جنجالي قانون دوه اونۍ وړاندې د ولسي جرګې لخوا تصویب او دا مهال د اساسي قانون د شورا رایي ته په تمه دی. ګمان کیږي چې د دغه قانون د بشپړ تصویب سره به د بهرنیانو د ایستلو پروسه نوره هم چټکه شي.

نور ولولۍ :د فرانسې د کډوالۍ نوي قانون کې مهم ټکي څه دي؟

په دغه قانون کې ورانده‌وینه شوې، حتی هغه بهرنیان چې له ۱۳ کلنۍ څخه په کم عمر کې فرانسې ته راغلي وي او هغه بهرنیان چې فرانسوي ښځې هم ولري له دغه هیواد څخه ایستل کیدلای شي.

د قانون مسودې ته تر ډیره ښي اړخو سیاستوالو رایه ورکړې. د کيڼ اړخې ډلې سیاستوالو بیا دا قانون «د شرم وړ «او «په تیرو ۴۰ کلونو کې تر ټولو ارتجاعي متن» بللی دی .

د فرانسې د کورنیو چارو وزیر له دې وړاندې ویلي و چې د افغانانو ایستل ناممکنه ده ځکه د نوموړي په خبره د فرانسې او افغانستان په اړه په دې اړه کوم تفاهم نشته او کابل ته د الوتکو استول هم امکان نه لري.

## د افغانانو په ګډون لسګونه هغه کډوال موندل شوي چې له رومانیا څخه هنګري ته اوښتل

مهاجرنیوز




د رومانیا سرحدي پولیس وایي چې د چهارشنبې په ورځ یې په دریو پیښو کې ۴۹ هغه کډوال له لاریو څخه موندلي چې غوښتل یې په ناقانونه ډول هنګري ته واوړي. په نیول شویو کسانو کې افغانان او پاکستانیان هم شامل دي.

د رومانیا سرحدي پولیس راپور ورکړی چې دغه کډوال په دوو لاریو کې پټ شوي وو او د تالاشۍ پر مهال له هنګري سر پر پوله د نادلاک ۲ پر پوله موندل شوي دي.

د پولیسو په وینا په دغه لارۍ موټر کې چې ټایرونه یې لیږدول، ۱۲ کډوال د ټایرونو په منځ کې پټ شوي و. د پولیسو له څیړنې وروسته په ډاګه شوه چې نیول شوي کسان د پاکستان، افغانستان او ایتوپیا اوسیدونکي دي چې د ۲۳ څخه تر ۴۵ کلونو پورې عمرونه لري.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د لارۍ موټر چلوونکی چې د رومانیي اوسیدونکی دی، د یادې پیښې په تړاو د پولیسو تر څېړنې لاندې دی.

نور ولولئ :<u>د رومانیا سرحدي پولیسو په دوه موټرو کې ۲۷ کډوال نیولي</u>

په دوو نورو پیښو کې د چهارشنبې په سهار، ۳۷ نور کډوال چې د لارۍ موټر په چت کې یې ځانونه پټ کړي و، موندل شوي دي. دغه کډوال د سریلانکا، بنګله دیش، مراکش، سوریې او مصر اوسیدونکي و او غوښتل یې په ناقانونه د هنګري خاورې ته واوړي.

د پولیسو د معلوماتو له مخې د موټر چلونکی د ترکیې اوسیدونکی و او د جرمني او رومانیا په لاره یې فرنیچر لیږدول.

بل لور ته بیا یو شمیر کډوال او د بشري حقونو بنسټونه د رومانیا پولیس پر تاوتریخوالي تورنوي. له دې وړاندې یو شمیر افغانانو کډوال نیوز ته ویلي چې د رومانیا پولیسو ورسره زورزیاتی کوي.

رومانیا په وروستیو کلونو کې د کډوالو لپاره د ټرانزیټ پر یوه مهمه لاره بدله شوې. د افغانستان په ګډون د یو شمیر نورو هیوادونو کډوال هڅه کوي چې په ناقانونه ډول له دغې لارې ځانونه نورو اروپایي هیوادونو ته ورسوي. خو رومانیا بیا پر خپلو پولو د کډوالو د مخنیوي لپاره کنټرول ډیر کړی.

## نخست وزیر ایالت نوردراین-وستفالن آلمان برای رسیدگی به روند پناهندگی در کشورهای ثالث اصرار دارد

مهاجرنیوز



هندریک ووست، نخست وزیر ایالت نوردراین-وستفالن آلمان، برای رسیدگی بحث برانگیز روند پناهندگی در کشورهای ثالث خارج از اتحادیه اروپا فشار می آورد. ووست به مجله آلمانی "اشپیگل" گفته است که این یک رویکرد مهمی است.

هندریک ووست، نخست وزیر ایالت نوردراین-وستفالن آلمان، از حزب سوسیال مسیحی آلمان (سی دی یو) تاکید کرده گفته است: «ما نمی توانیم مسئله مهاجرت را اینجا در آلمان و در خاک اروپا حل کنیم.» او از صدراعظم اولاف شولتس خواست تا در مورد این موضوع شفاف سازی کند.

ووست گفت: «صدراعظم وعده داده است که بررسی کند که آیا وضعیت حمایت از پناهجویان می تواند در کشورهای ترانزیت یا ثالث نیز تعیین شود یا خیر.» وی افزود: «من انتظار روشنی در این مورد از صدراعظم دارم که در چند هفته آینده نتایج این بررسی را ارائه کند و بگوید که با کدام کشورها تماس گرفته شده است«.

این نخست وزیر همچنین خواستار تشکیل جلسه زودهنگام بین حکومت فدرال و ایالت با مشارکت شولتس شد. این سیاستمدار به "اشپیگل "گفت: «آماده شدن زودهنگام برای این واقعیت که تعداد پناهجویان به زودی دوباره به طور قابل توجهی افزایش می یابد، ضروری است. اقدام نکردن و منتظر ماندن یک گزینه نیست«.

ووست تأکید کرد: «همه افرادی که ممکن است دلایل خوبی برای ترک وطن خود داشته باشند اما حق حمایت در اروپا را ندارند، نمی توانند به ما مراجعه کنند. "مهاجرت های غیر قانونی" باید متوقف شود .هدف در آینده این است که بتوانیم عدالت را برای افرادی که از جنگ و تعبید فرار می کنند و واقعاً نیاز به محافظت دارند، ادا کنیم.» او به حکومت فدرال هشدار داد که «گزینه‌ها برای راه‌حل را نباید به حالت تعلیق درآورد«.

## پولیس بلغاریا ۱۸ هزار مهاجر را در ۱۱ ماه سال ۲۰۲۳ بازداشت کرده است

مهاجرنیوز



وزارت داخله بلغاریا می‌گوید که از جنوری تا نوامبر ۲۰۲۳ بیش از ۱۸هزار مهاجر غیرقانونی را بازداشت کرده است که بیشتر آنها از کشورهای سوریه و افغانستان هستند.

رسانه بی تی ای به نقل از وزارت داخله بلغاریا گزارش داد که ۱۴ هزار و ۵۹۹ مهاجر پس از ورود غیرقانونی به این کشور بازداشت شدند که نسبت به سال ۲۰۲۲ بیشتر شده و ۳۱،۵ درصد افزایش را نشان می‌دهد.

وزارت امور داخله گفته است که بیش از نیمی از این مهاجران سوری و پس از آن افغان ها هستند. در همین حال، مهاجران مراکشی در ردیف سوم بازداشت قرار دارند.

این وزارت گفت که در همین مدت بیش از ۳۴۰۰ پناهجوی دیگر در داخل و خارج از مرز بازداشت شده‌اند.

اطلاعات پولیس مرزی حاکی از آن است که در ۱۱ ماه سال گذشته از عبور ۱۷۶ هزار مهاجر غیرقانونی به بلغاریا جلوگیری شده است که نسبت به سال گذشته ۱۳ درصد افزایش رش نشان می‌دهد.

مرز مشترک بلغاریا با ترکیه مسیری است که اکثر پناهجویان تلاش می‌کنند به گونه غیرقانونی از آن عبور کنند. گزارش وزارت داخله بلغاریا نشان می‌دهد که در این مدت نیروهای مرزی کشور بیش از ۱۷۵هزار پناهجو را از این مسیر متوقف کرده‌اند.

مرتبط :بلغاریا به اتریش اطمینان می‌دهد که از مرز بیرونی اتحادیه اروپا با ترکیه به خوبی محافظت می‌کند

بازگرداندن مهاجران دوبلین به بلغاریا

بر اساس اخبار دیگری که از رسانه بی تی اس به روز چهارشنبه منتشر شد، ۶۰۰۰ تن از متقاضیان پناهندگی در بلغاریا به اتریش فرار کردند که این ۶۰۰۰ پناهجو باید بر اساس مقررات دوبلین به بلغاریا بازگردانده شوند.

این رسانه می‌گوید که در سال ۲۰۲۳ به تعداد ۵۹۰ پناهجو از کشورهای اتحادیه اروپا بر اساس مقررات دوبلین به بلغاریا بازگردانده شدند که از این تعداد ۱۱۳ تن از اتریش به بلغاریا بازگردانده شدند.

خانم توشیوا از اداره مهاجرت بلغاریا می‌گوید: «ما در مورد بازگشت از اتریش، آلمان و فرانسه توافق داریم».

بسیاری از پناهجویان از جمله افغان ها تلاش می‌کنند از طریق ترکیه و بلغاریا خود را به دیگر کشورهای اروپایی برسانند.




**انتقال ۱۸ جسد مهاجر افغان به کابل. تصویر: وزارت مهاجرین و عودت کنندگان**

**در ماه فبروری سال گذشته ۱۸ مهاجر افغان در یک کامیون در حوالی شهر صوفیه پایتخت بلغاریا جان خود را از دست دادند. این افغان ها در موتر به دلیل کمبود اکسیژن و هوای سرد دچار خفگی شدند و پس از آن اجسادشان به کابل منتقل شد.**

**مرتبط :یک مهاجر در بلغاریا در اثر سرما جان داد**

**سازمان های حقوق بشر، پولیس بلغاریا را به رفتار خشونت آمیز با مهاجران متهم می‌کنند. دیده بان حقوق بشر از خشونت پولیس بلغاریا در برابر پناهجویان افغان در سال ۲۰۲۲ ابراز نگرانی کرد و گفت که مقامات این کشور در مرز با ترکیه، تعدادی از پناهجویان افغان را پس از ضرب و شتم و شکنجه به ترکیه بازگرداندند. گفته شده است که پولیس برای سرکوب آنها از سگ های حمله ور استفاده کرده است.**